
NAF
COVID-19
کرونا سره د مبارزي ملي اتحاد
اتحاد ملـــی مبارزه با کـــرونا

# د کرونا ناروغي:

## د کرونا له امله د وفات شوي شخص د تکفین، تجهیز او تدفین لارښود

Download from:aghalibrary.com



د کرونا سره د مبارزه د ملي اتحاد علمي او ديني کميته

# د پیل خبره :

دا لارښود د کرونا له وایروس ناروغۍ یا هم د کرونا د مشکوکې پیښې له امله وفات شوي شخص ته د غسل ورکولو ، کفن وراغوستلو ، هدیرې ته د لیږد ، جنازې او تدفین په اړه اړین او ضروري معلومات لري چې د روغتیا د نړیوالې ټولنې د لارښود او اسلامي فقهې د احکامو په رڼا کې کرونا سره د مبارزې د ملي اتحاد علمي او دیني کمیټې په هڅو ترتیب شوی دی.

د دغه لارښود لوستل د ټولو هاغه خلکو لپاره اړین دی چې د مړي په غسل ، تکفین ، تجهیز ، تدفین او جنازه کې برخه اخلي لکه د مړي لمبوونکي ، عالمان ، د مړي د کورنۍ غړي او نور عام مسلمانان.

د افغانستان لړکي تابعیت لرونکي سکان او هندوان د دغه لارښود د عمومي لارښوونو څخه کار اخستلای شي البته هغویي خپل ټول مذهبی او کلتوري مراسم د ټولو هاغه احتیاطي تدابیرو په نظر کې نیولو سره سرته رسولی شي چې په دغه لارښود کې د هر پړاو لپاره ښودل شوي دي.

لارښود تر دې دمه د کرونا وایروس په اړه د موجودو کره منابعو په رڼا کې ترتیب شوی، خو داچې د وایروس په اړه طبیي معلومات لا هم ورځ تر بلې د بشپړیدو په حال کې دی نو ممکن په لارښود کې تغیرات راشي چې د تغیراتو لپاره هیله ده د کرونا سره د مبارزې د ملي اتحاد (NAF Covid 19) فیسبوکي پاڼه صفحه www.facebook.com/nafcovid19/ تعقیب کړئ.

## لومړي خبره:

## اړین ټکي

۱. کرونا یوه حاده تنفسي ناروغي ده چې د کوید-۱۹ نولس یا covid 19 وایروس په واسطه رامنځته کیږي، دا ناروغي معمولاً سږي اخته کوي.

۲. وایروس له یوه انسان څخه بل ته د خولې د لاړو او پوزېپزي د ځاځکو، یو بل سره د نږدې تماس ، د هغه شیانو او سطحو د تماس څخه چې په دغه وایروس سره ککړ شوي وي او ممکن د غایطه موادو له لارېځخه هم انتقالیږي. دا چې دا ناروغي یوه نوې ناروغي ده او په اړه یې لا هم معلومات بشپړ نه دي نو ځکه په هر حال ډېر احتیاط باید وشي.

۳. دا چې مړی نه تنفس کوی ، نه پرنجی او نه ټوخی کوی نو ویلای شو چې د کرونا ناروغی څخه د مړ شوي شخص جسد ناروغي نه انتقالوي، خو که چېرې دا جسد د خپلو لاړو یا پوزېپزې د افرازاتو له امله په وایروسونو ککړ وي نو د نورو انتانیی انتقالیدونکو ناروغیو په شان دا ناروغی هم د مړیی د جسد څخه په داسې ډول خپریدلای شي چې د مړیی په بدن باندېی موجود وایروسونهو د تماس له لارې بلتماس کوونکی شخص ته خپریږي او د پوزېپزې ، خولې او سترګو له لارې د نوموړي شخص بدن ته ننوځي او یا یې هم د تماس له لارې بل شخص ته انتقالوي.

۴. تر دې دمه داسې کره شواهد په لاس کی نشته چی روغ انسان دېی د کرونا له امله د مړ شویی انسان له بد ن څخه په کرونا اخته شوی وي.

۵. د کـــرونا ناروغان ممکن کور ، روغتون او یا کوم بل ځای کـــې مـــړه شي، له دې امله د ټولو مشـــــــــــکوکو مړینو سره باید د کرونا د ناروغۍ څخه د مړه شوي شخص په توګه احتیاطي تعامل وشي.

٦. په اسلام کې د مړي احترام او عزت خپل ارزښت لري، له دې امله لازمه ده چې د مړي جسد په ټول احترام سره سنبال کړل شي.

۷. د اســــــــلامی شریعت له مخې د مړي د احترام او د ژوندیو د حفظ النفس تر منځ د توازن له مخې د جســــــــــد د سبالوونکو ساتنې ته لومړیتوب ورکول کیږي، له دې امله د جســــــــد د سنبالوونکو اشخاصو د ځان ساتنې لپاره ټول حفاظتي تدابیر باید ونیول شي او باید د شخصيـــــــــــ محافظت ټول وسایل (Personal Protective Equipment's PPE) له ځان سره ولري.

دغه وسایل عبارت دي له :

- N95 یا طبي ماسک
- د اوږدو لســـــــــــتونو ګاوون (ځانګړې چپن چې دټول بدن د پټولو لپاره اســــــــتعمالیږي)؛ البته ګاوون باید د اوبو په وړاندې مقاوم وي، یعنې اوبه ترې تیرې نه شي.
- عینکې
- د مخ لپاره پلاستیکي شفاف پوښ
- دستکشې

## دوهمه خبره:

## که ناروغ په روغتون کې مړشوی وي نو :

١. د مړ شـــوي شـــخص کورنۍ ته باید په پوره خواخوږۍ او د طبابت د اخلاقو د غوښـــتنې سره ســـم خبر ورکړل شي. هغوی ته تعزیت وشي او ورته وویل شي چې ستاسې مړی شهید دی (انشـــاءالله)، ځکه چې د نبیی کریم صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی چې کوم مســـلمان د طاعون او وبا څخه مړ کیږي هغه شهید دی.

٢. د مړي کورنۍ ته د ددغه لارښـــود ټولې لارښـــوونې شرح کړل شي او ورته وویل شي چې تر هر څه مهم نورو ژوندیو انســـانانو ته د دغه وایروس د خپریدا مخنیوی دی نو ځکه باید په ټولو مراســـمو کې هڅه وشي چې د گڼـــې گوڼـــې ، یو بل ته د لاس او غاړه ورکولو ، د مـــړي سره د تماس نیولو او نورو داسې کړنو څخه ډډه وشي چې د وایروس د خپریدو لامل گرځي.

٣. هغه روغتیایی کارکوونکي چې د مړ شوي شخص جسد سنبالوي باید د شخصي محافظت ټول وسایل PPE (چې پورته ذکر شوي دي) له ځان سره ولري.

۴. د جســـد څخه دې ټول طبیی وسایل لکه د قلبي مانیټور لاینونه ، د وینې د فشـــار د کتلو آلات ، د وینټیلیټر سرکټ ، د پوزېږې له لارې د معدې ټیوب ، د ادرار کتیټـــر ، داخل وریدیـــی او شریانیـــی لاینونه او نور په ارام سره لرې کړي، په داسې ډول چې د جســـد افرازات شاوخوا خپاره نه شي.

۵. د جســـد د سنبالښـــت او چمتو کولو پر مهال باید صحیی کارکوونکي د خپلو د لاســـونو حرکات محدود وســـاتي او لاســـونه ډیر ښـــکته پورته نه کړي چې د وایروس د خپریدو لامل گرځي.

٦. ډاډ ترلاسه شي چې د جســـــــــد د افرازاتو ټول ځایونه بند کړل شوي دي، لکه: خوله ، پزهپزه ، کوم زخم، ... چې د ســــــنبالوونې پر مهال افرازات د وایروس د خپریدو لامل نشي.

٧. د مړشـــــوي شـــــخص د معدې افرازات ( که چیرې ویی) ، ادرار او نور طبیی فاضـــــله توکي باید په یوې ځانګړېی پلاســـــتیکي خلته کې، چې څو دانې خلتې وي، ځای پر ځای کړي چې وروســـــته به یې د انتان د مخنیوی تدابیرو سره سم له منځه وړي.

٨. د جسد ضد عفوني کولو ته اړتیا نشته ده .

٩. که روغتون د غســـــل ورکولو اسانتیا ولري باید مړي ته په مســـــنونه طریقه غســـــل ورکړل شي. او د غســـــل ورکولو پر مهال ټولې هغه لارښوونې په نظر کې ونیسي چې په دریمه خبره (غسل او انتقال)کې ذکر شوي دي.

## دریمه خبره

## غسل ، تکفین او انتقال:

١. هاغه روغتیایی کارکوونکي یا د مړ شوي شخص خپلوان چې مړي ته غسل ورکوي باید د شخصیی محافظت بشپړ وسایل (PPE) ولري. دغسل لپاره دې د طبیی دستکشو برسیره رابري دستکشې هم وکاروي. د گاوون (طبي چپنې ) له پاسه که پلاستیکي پوښخ (Aprone) واغوستل شي بهتره دهی.

٢. هاغه خلک چې د سینې ، شکر ، د فشار ، د زړه او یا د سرطان ناروغیی ولري او یا یې هم عمر یې له شپیتو کالو زیات وي باید د غسل ورکولو څخه ډډه وکړي.

٣. د غسل ورکولو لپاره داسې تخته وکارول شي چې په اسانۍ سره بیا ضد عفوني کړل شي.

۴. د غسل ورکولو لپاره که داسې ځای غوره کړل شي چې هوا ولري او پاکول او ضد عفوني کول یې آاسان وي او دغه راز د انتاني مایعاتو د خپراوي څخه مخنیوی کیدلای شي.

۵. د غسل ورکولو پر مهال باید لاسونو ته ډیر زیات حرکات ورنه کړل شي چې د انتان د خپریدو لامل گرځي.

٦. اوبه باید په تیز فشار او سرعت سره وانه چول شي چې څاڅکي یې پورته نشیوانه الوځي.

۷. هاغه خلک چې مړي ته غســــــــــل ورکوي یا د مړي سره په تماس کې کیږي ائې د شخصـــــــــــیې محافظتي وسایلو برسیره باید شخصــــــــیې حفظ الصــــحي ته پام وکړي ، لاسونه د غســــــــل څخه وړاندې او وروسته له هاغه چې پروسه بشـــــــــپړه شي په صابون سره پریمینځي او خپل لاسونه خولې ، پزې او سترګو ته ور نه وړي.

۸. هاغه اوبه چې مړي ته پرې غسل ورکول شوی باید په یو مخصوص ځای کې پټې کړل شي یا هم که ډرین کیږي نو سمه ده .

۹. د غســــــــل ورکولو څخه وروسته جســــــــد په کفن کې وپوښل شيځ (پلاستیک کې د جســــــد پوښلو ته اړتیا نشـــــته) او ژر تر ژره یې د جســــــد ساتنې سړې خونې یا هم د انتقال لپاره وسایطو ته ورسول شییوسئ.

۱۰. د مړي د انتقال لپاره کومې ځانګړې واسطې (ګاډي) ته اړتیا نشته، هر ډول واسطه مثلاً امبولانس یا کوم بل ډول موټر کاریدلی شي.

۱۱. د مړي د غســـــــــل څخه نیولې تر انتقال او جنازې پورې هر پړاو کې باید د شخصيــــ حفظ الصـــحې او احتیاط بشـــپړ تدابیر په پام کې ونیول شي، یعنې د PPE اســتعمال او د فاصـــلې نیول. پروســـه کې ټول شــــامل خلک باید یو له بل څخه فاصله ونیسي او ماسکونه وکاروي.

۱۲. ټول هاغه خلک چې جســـد ګاډي ته پورته کوي یا یې راکوزوي باید د جســـد د پورته کولو څخه وړاندې او وروســــته خپل لاســــونه پریمنځخي ، هر وخت باید ماســــک وکاروي او خپلې خولې ، پوزېپزې یا ســــترګو ته د لاس وړلو څخه ډډه وکړي.

۱۳. دا چې کرونا وایروس تر ۹ ورځو پورې له ســــــطحو څخه انتان خپرولای شي نو ځکه د چاپیریال پاک ســــاتل خورا اړین او ضروریی دي. هاغه تخته چې مړي ته پرې غســـــــل ورکړل شوی لومړی که ممکنه وه پهد صابون او اوبو سره پریمنځل شي او وروســــته بیا په هغه ســـــطحه باندې ۰،۱٪ بلیچ او یا 70% ایتانول واچول شي او کم له کمه یوه دقیقه پرې پریښودل شي.

۱۴. د ضدعفونی کولو والا شخص باید په بشپړ ډول شخصیی محافظتیی وسایل ولري.

۱۵. ټول طبیی فضــــــــله جات باید د انتان د مخنیویی د اصولو سره سم سنبال کړل شي،. داسې چې لومړیی په بشــــــــــــپړډول سره ضدعفوني کړل شي او بیا په یو لرې او جلا ځای کې وسوځول شي.

۱٦. په هغه صــــورت کې چې اوبه نه وي یا داســــې صــــورت وي چې د انتان د خپراوي له ویرې اوبه نه شي استعمالیدلای د علماؤو د فتوا پر بنســــــــټ مړ شـــــــخص ته تیمم ورکول کیدلای شي. که چیرته دا هم ممکنه نه وي، پرته له غسل څخه هم مړی دفن کیدلای شي.

# څلورمه خبره:

## وروستۍ کتنه ، جنازه او تدفین :

۱. د غسل ورکولو او کفن ورکولو څخه وروسته مړی په عزت سره په تابوتکې کیښودل شي .

۲. د کورنۍ غړي او دوستان کولای شي چې له غسل او کفن ورکولو وروسته مړ شوی شخص وګوري ، خو هیڅوک باید مړی نه ښکل کړي او نه یې لمس کړي.

۳. ټول هاغه اشخاص چې د مړي لیدل غواړي باید ماسک وکاروي ، یو له بل څخه دوه متره او یا کم له کمه یو متر فاصله ولري او له کتلو وروسته خپل لاسونه په صابون پریمنځي .

۴. د مړ شوي شخص جنازه به په مسنونه طریقه سره سرته رسیږي، البته هڅه باید وشي چې جنازه کې له کمو څخه کم خلک شریک شي ځکه چې جنازه یو فرض کفایی عمل دی او د انسانانو د ژوند ساتنه فرض عین ده. نو د موازناتو د فقه په رڼا کې مناسب عمل دا دې چې د لږو څخه لږ خلک په جنازه کې شریک شي، حتی که یو شخص هم په جنازه کې شریک شي فرض کفایی ادا کیدلای شي.

۵. د جنازې لپاره خلک په خپلو منځونو کې کم له کمه یو متر فاصله مراعت کړي.

٦. له جنازې سمدستي وروسته باید د مړي تدفین پیل شي.

۷. هغه کسان چې په تدفین کې برخه اخلي باید شخصیی حفاظتي وسایل ولري او کله چې له تدفین څخه فارغ شي باید خپل لاسونه په اوبو او صابون پریمینځي.

۸. د مرگ څخه وروسته بايد د فاتحې له مراسمو ډډه وشي، ځکه چې د کرونا د ناروغۍ د خپريدو سبب گرځي . که په فرديي ډول څوک د تعزيت لپاره د متوفی کور ته ورځي هم بايد ټول احتياطی تدابير او ټولنيزه فاصله اخيستل مراعت کړي. د مړي د ورثه او تعزيت کوونکي بايد ماسکونه وکاروي.

۹. په هر صورت بايد له لاسونو او غيږ ورکولو ډډه وشي او له تعزيت وروسته سملاسي لاسونه په اوبو او صابون پريمنځل شي.

۱۰. د مړ شوي شخص د جامو او د استعمال نورو شيانو غورځولو او يا سيزلو ته اړتيا نشته بلکې که د دستکشو سره را واخستلاخيستل شي او د جامو مينځلو له صابون سره پريمنځل شي او بيا د بليچ د ۰،۱٪ محلول او يا ۷۰٪ ايتانول الکولو سره ضدعفوني کړل شي، کارول کيدلای شي.

۱۱. جامې او نور ټوکرباید د ۶۰ـ۹۰ ۶۰ ۹۰ څخه تر ۹۰ درجه د سانتيگراد گرمو اوبو کې د جامو مينځلو پوډرو سره د ماشين په واسطه پريمنځل شي. که د ماشين اسانتيا نه وي نو بايد په لوی ستل يا تشت کې په گرمو اوبو او صابون کې واچول شي او د يو لرگي پواسطه ولړل شي خو احتياط بايد وشيی چې څاڅکيې ترې راپورته نه شيوانه الوځي. بيا بايد تشت يا ستل خالیی کړل شي او ټوکر او جامې د نيم ساعت لپاره په ۰،۰۵٪ د کلورين محلول کېي پريښودل شي او له هغې وروسته وزبيښل شي او لمر ته وغوړول شي.

# اخځلیکونه :

۱. د کرونا وایرس په وړاندې د علماؤو د عالي کمیسیون فتوا، ۱۳۹۹ هـ ش کال د وري ۱۷

2. World Health Organization (WHO) Infection Prevention and Control for the safe management of a dead body in the context of COVID-19 Interim guidance 24 March 2020

3. Federation of Islamic Medical associations (FIMA): Islamic Burial guidelines for COVID-19 for the deceased body

4. European Center for Disease Prevention and Control (ECDC): Considerations related to the safe handling of bodies of deceased persons with suspected or confirmed COVID-19

5. British Islamic Medical Association (BIMA) : Guidance on the performance of ghusl for deceased persons with suspected or confirmed COVID-19